بسم الله الرحمن الرحیم

# ا قلیم او د هغه د تغیراتو په برابر  کي تدابیر

ا قلیم د یوی جغرافیا یی سیمی یا په ټولیز ډول په اوږد محال کی د مځکی د کری د اب او هوا شرایطو ته لکه د تو دوخي درجه ،رطوبت،د اتمسفر فشار ، باد ، باران او د هوا پیژندنی نورو شرایطو ته ویل کیږی ، پداسی حال کی چی  هوا پیژند نه حاضر شرایط تر غور لاندی نیسی

د مځکی کره په کومه کی چی موږ انسا نان د نورو موجو داتو سره یو ځای ژوند کوو د میلیونها و کلو نو په اوږدو کی په کا ئیا ناتو کی د بی نظمی څخه په او سنی حالت و ثبات ، نظم او توازن ته رسیدلی ده د مځکی په د ننه ، د مځکی پر سطح او د مځکی د اتمسفیر  په یوه بر خه کی تغیر د ټو لی مځکی پر توازن اثر غورځوی همدا شا نی په لمر ، کهکشا نو نو او کا ئیناتو کی تغیر پر مځکه د بهر نه اثر ښیندی

موږ انسا نانو تر  هغو چی د مځکی د طبیعت سره مطابق ژوند کا وه د خپل ژوند د اړتیا و د پوره کو لو د پاره مو په طبیعت کی د شتو نعمتو نو څخه کار اخیست پر مځکه  او د هغی پر اقلیم مو منفی اثر نه غور ځاوه ، کله چی مو د خپلو شخصی ، ټولنیزو او صنعتی اړتیاو دپاره د انرژی د تامین په مقصد د نفتو ، ډبرو سکرو ،طبیعی غازاتو ، معادنو او ځنګلو نو څخه په کار اخیستنی لاس پوری کړ د مځکی د ننه او د اقلیم توا زن په خرابیدو پیل وکړ : د هوا د حرارت درجه په ګر میدو سول ، قطبی او نور کنګلو نه په ویلی کیدو سول ، د اتمسفیر د اوزون قشر نازک او سوری پیدا کړل ، سیلا بونه را غلل ، ځنګلو نه تباه سول د ځینو حیوا ناتو او نبا تاتو ډولو نه د انقراض خوا ته ولاړل ، قحطی او وچ کالی را غلل مځکه او په هغه کی ژوند د نا بودی د خطر خواته روانه سول که د ا دوام وکړی مځکه او  ژوند د تبا هی خواته ور روانه ده  ، اوس چی لا فرصت لرو بشه داده چی یا ځانونه ور سره عیار کړو یا یی مخه ډب کړو یا د مځکی د مو جو داتو د پاره په سمشی نظام کی بل ځای پیدا کړو





د اقلیم د تغیر د خطر د مخنیوی د پاره یوه لار داده چی  د شخصی ، ټولنیز ژوندانه او صنعت د پاره د انرژی د فوسیلی منابعو لکه ( نفت، ګاز ، ذ غال) پر ځای د نوی کیدونکی انرژی د منابعو څخه کار واخلو

## د نوی کیدو نکی انرژی منابع :

نوی کیدونکی ا نرژی هغه ا نر ژی ده چی د نوی کیدونکو سر چینو څخه را تو لیږی ، دا سر چینی په کائیناتو او طبیعت کی یا بی پایه شتون لری او یا په طبیعی ډول بیا را پیدا کیږی لکه د لمر وړانگی ، باد ، باران ، د بحر د اوبومد او جذ ر ، داو بو څپی ، د مځکی د عمق تو دو خه ، تو دی چینی ، بیو گاز ، نباتی تیل ، ایتانول، هایدروجن او نور

د نوی کیدونکی انرژی منابع په ځلو رو مهمو سا حو کی انرژی برابروی : د بریښنا تو لید ، د او بو او هوا گرمول / یخول ،انتقا لات او ترانسپورتیشن ، عمومی شبکو او د شبکو څخه جلا کلیوالی سیمو ته انرژی او بریښنا برابرول

د نوی کیدونکی انرژی منابع د ټول بشریت د انرژی د مصرف ۱۹،۳ سلنه برخه اماده کوی په دی کی ۲۴،۵ سلنه د بریښنا تولید دی ( ۲۰۱۶-۲۰۱۵) د انرژی دا تولید ۸،۹ سلنه د عنعنوی عضوی کتلو ، ۴،۲ سلنه د تودوخی انرژی ( د عضوی کتلو ، د مځکی او لمر تو دو خه)۳،۹ سلنه د او بو بریښنا او ۲،۲ سلنه د باد ، لمر ، جیو تر مال او عضوی کتلو بریښنا ده ، د نوی کیدونکی انرژی د منابعو امتیاز دادی چی په ټو لو جغرافیا یی سیمو کی شتون لری پداسی حال کی چی د انرژی نوری منابع په ځینو او خاصو جغرافیا یی مناطقو کی شتون لری د نوی کید ونکی انرژی د منابعو ژر او چټکه په کار اچونه او موثریت د انرژی د امنیت د اقلیم د بدلون د کمښت او اقتصادی گټو سبب گر ځیدلی دی ، د نوی کیدونکی انرژی د منابعو په کار اچونه د چا پیر یال د نا پا کی او د اب او هوا د نا پا کی د زیا تیدو مخنیوی کړیدی

## د نوی کیدونکی انرژی د منابعو ډو لو نه :

- د باد انرژ ی
- د لمر د وړا نگو انرژی
- بیو گاز
- د او بو انر ژی
- د لرگو انرژی
- د مځکی د ژورو تو دو خه
- د تودو او بو چینی

## د باد انرژی :

د باد انرژی د نوی کیدونکی انرژی د ډولو نو څخه په یوه ډول کی حسابل کیږی د مځکی د اتمسفیر غیر متوازنه تودوخه او یخنی د باد سبب گر ځی همدا رنگه د مځکی گر دیش او نور جیو لو جیکی فکتو رو نه د باد سبب گرځی ، د باد جریان د باد ی تور بینو پواسطه را گرځول کیږی په بریښنا بدلیږی ، په اوس وخت کی د بادی کوچنیو ژرندو څخه د او بو د پمپولو د پاره کار اخیستل کیږی زیات خد ماتی مو سسات د بادی تولیدی سیستمو نو څخه د کارو بار د پاره کار د باد جلا تور بینونو څخه د شتو بریښنایی تدار کا تو د تکمیل د پاره کار اخلی ، او د باد خد ماتی فا رمونه د خر ځلاو د پاره بریښنا تولیدوی

د باد جریان د بادی کښتیو ، بادی ژرندو او د بریښنا د تولید د پاره د بادی جنرا تو رو نو د چلو لو د پاره په کار اچول کیږی او سنی با دی تور بینو نه د ۶۰۰ کیلو اته څخه تر ۵ میگا واته تو لیدی قدرت لری د صنعت او تولید د پاره هغه با دی تور بینو نه چی ۱،۵ څخه تر ۳ میگا ه واته تولیدی قدرت ولری په کار اچول کیږی تر ټو لو قوی توربین چی ۷،۵ میگا واته تولیدی قدرت لری په بحر کی درول سویدی ، په هره اندازه چی د باد سرعت زیات او ثابت وی په هغه اندازه د بادی جنرا تور تولیدی قدرت زیات او ثابت وی د بادی توربینو نو د فا رمونو د پاره سا حلی سیمی او سمندر مناسب دی په ۲۰۱۵ کال کی بادی انر ژی د ټو لی نړی د اړتیا و ۴ سلنه بریښنا تو لید کړیده



په افغانستان کی د جی ای زید لخوا په پنجشیر او بدخشان کی بادی امتحانی جنرا تو رونه نصب سویدی ولی کومی مسئولی اداری د دی تور بنو د کار او نتایجو څخه د پام وړ استفاده نده کړی ځینی خصوصی متشبثین کوچنی بادی توربینونه چوړوی خو ددی کار د پر اختیا او دوام ملاتړ ور سره نسته

## د لمر د وړانګو انرژی :

د لمر انرژی د لمر څخه د نورانی رو ښنایی او تو دوخی څخه عبارت ده چی په عنعنوی ډول او د ډول ډول تکنا لو ژیو د استعمال په واسطه په لاس را وړل کیږی : شمسی تو دوخه ، فو تو ولتایک ، د لمر د وړانګو متمرکز کول ( سی ، اس ،پی ) متمرکز کونکی فو تو ولتایک( سی، پی ، وی ) د سا ختمانو شمسی مهند سی او مصنوعی فو تو ولتایک او داسی نور

د لمر د انرژی څخه د کار اخیستنی تخنیک په عمو می ډول دوه ډو له دی :غیر فعا له کار اخیستنه او فعاله کار اخیستنه ، غیر فعال یا پا سیف تخنیک دادی چی سا ختما نو نه او کړکی یی د لمر خوا ته ځیر مه کوی د ګرم خانو څخه د تودو خی او کر هنی د پاره کار اخیستل کیږی د لمر د رو ښنایی څخه د کو تو ، کار ځا یو نو او نورو ځا یو نو د رو ښنا نه کولو او د هوا د طبیعی دوران د پاره کار اخیستل کیږی ، فعا له او اکتیوه کار اخیسته داده چی د برښنا ، تودی او یخی هوا دتولید د پاره د لمر وړانګو ته د انسان په لاس چوړه سوی د ستګا ایږدی ، د فو تو ولتیا یک سیستم د فو تو الکتریک د اثر څخه په ګټه اخیستلو سره د لمر وړانګه د برېښنا په مستقیم جریان ( ډی ، سی ) بدلوی ، د لمر د وړانګو د متمر کز کو لو د قدرت څخه ( سی،اس ، پی ) د هوا او اوبو د تو دولو د پاره کار اخیستل کیږی

لمر د وړانګو په شکل انر ژی لیږی چی په مټ یی ژوند پر مځکه باندی ممکن سویدی دا د لمر په د ننه کی د هیلیوم په اټومونو د هایدروجن د هستو به تغیر او زوبیدلو منځ ته را ځی د لمر او مځکی د لیری والی له کبله د لمر د وړانګو او تو دوخی د وه میلیو نمه برخه د مځکی سطحی ته رسیږی






د مځکی د اتمسفیر بهر د لمر د وړا نګو شدت یو د بل څخه د لمر او مځکی په فا صله پوری اړه لری چی د کال په جر یان کی د ۱۰*۱،۴۷ په طاقت ۸ څخه تر ۱۰*۱،۵۲ په طاقت ۸ کیلو مترو په اوږدو په تغیر کی دی وی په دی اساس د لمر د وړانګو شدت د ۱۳۲۵ وات پر متر مربع څخه تر ۱۴۱۲ وات پر متر مربع دی د لمر د وړانګو د شدت منځنی حد ثابت دی ۱۳۶۷ واته پر متر مربع دی د لمر د وړانګو دا شدت د مځکی تر سطحی نه را رسیږی د مځکی اتمسفیر د انعکاس ، جذب او تیتو لو د لاری د لمر د

وړا نګو دا شدت کښته را ولی ، په پاک ا سمان کی د غرمی  پر محال د لمر د وړانګو شدت چی مځکی ته رسیږی ۱۰۰۰  واته پر متر مربع دی د تیتو پرکو وریځو تر شا چی د لمر وړانګی را وزی شدت یی تر ۱۴۰۰ واته پر متر مربع ته رسیږی که د کال په جریان کی د لمر د وړانګو شدت جمع کړو نو  دلمر ګلوبل وړانګی په کیلوات ساعت پر متر مربع اندازه کیږی  د لمر انرژی د نوی کیدونکی انرژی د بی پا یه سر چینو څخه  یوه ده د لمر لخوا په ۸ دقیقو کی مځکی ته دومره انرژی را لیږل کیږی چی د ټول بشریت د یوه کال د پاره بس ده لمر د یوی ورځی په اوږدو کی مځکی ته دومره انرژی را لیږی چی د ټول بشریت د ۱۸۰ کالو د انر ژی اړتیا وی پوره کولای سی لمر په ورخ کی ۹۸۰ بیلیو نه کیلو واته انرژی و مځکی ته را لیږی د لمر د انرژی لمړنی ډولو نه تو دو خه او رو ښنایی ده د لمر وړانګه او تو دو خه د چا پیر یال په واسطه په مختلیفو لارو تغیر شکل کوی او جذ بیږی د لمر د انر ژی د په کار اچو لو د لو یو قا بلیتو نو  څخه د بریښنا ، تودی او یخی هوا ، د تودو اوبود تولید او د میوو او ترکاریو د کرهنیزو ، نسا جی او بحری




محصو لاتو د وچولو د پاره د تودی هوا رسول دی مخصوصا د ژمی په فصل کی د مناسب چا پیر یال د سا تلو د پاره د تعمیراتو تودول او د وچو موادو بیرته احیا کول

## د اوبو انر ژی :

د او بو په زور د بریښنا تولید او د او بو قدرت

د رو د ونو او دریا بو نو د او بو  حرکی انرژی په مختلیفو ډولو نو را ګر ځول کیږی تر څو بریښنا تولید کړی ډیر معمو لی ډول یی د او بو د ډ یمو نو او ذ خیرو جوړول دی چی اوبه پر تور بینو جر یان پیدا کوی او بریښنا تولیدوی

د او بو په زور تور بینو نه په حرکت را ځی ، ژرندی په کار لویږی د او بو د بخار په زور بریښنا  تولیدیږی په ۲۰۱۵ کال کی د او بو په زور  د نړی د ټولی بریښنا۱۶،۶ سلنه تو لید سویده چی دا دنوی کیدونکی انرژی په وا سطه د بریښنا د تولید ۷۰ سلنه تشکیلوی

## جیو تر ما ل انرژی یا د مځکی تو دو خه :

د مځکی تو دو خه د مځکی د داخل د حرارت څخه مشتق کیږی ، د مځکی تو دو خه کولای سو چی د مځکی د سطحی د تودوخی یا د مځکی د ژورو ډبرو په ځنګ کی د تودو اوبو څخه په لاس را وړو

په لوړه درجه د مځکی د تو دوخی انر ژی د حرا رتی انرژی څخه تولید یږی او په مځکه کی سا تل کیږی ، د مځکی د هستی او مرکز د حرارت درجه د مځکی د سطحی سره فرق لری  په ۶۴۰۰ کیلو متره کی د مځکی د حرارت در جه زیا ته وی د مځکی د هستی د مرکز د حرارت درجه ۵۰۰۰ سانتی ګراده ته رسیږی دا حرارت د نیژدی ډبرو د لاری لوړ ته انتقا لیږی د حرارت لوړه درجه او زیات فشار ددی سبب کیږی چی ډبری د مګما په شکل ویلی او زوب سی دا زوب سوی مواد تر ډبرو سپک دی په خپل مسیر کی ډبری او اوبه تر ۳۷۱ سا نتی ګرادو پوری تود وی ، د تودو چینو د حرا رتی انرژی څخه د او بو د تو دولو او ځا یو نو د ګر مولو د پاره کار اخیستل کیږی

## بیو ګاز یا بیو لو ژیکی انر ژی :

بیو انرژی د نوی کیدونکی ا نر ژی یو بل ډول دی چی د بیو لو ژیکی کتلو څخه مشتق کیږی ، تودوخه او بریښنا تولیدوی یا مایع تیل لکه ایتا نول او بیو ډیزل تولیدوی په ترانسپورت کی کار ځینی اخیستل کیږی ، بیو لو ژیکی کتلی په ژوندی موجو داتو اړه لری چی د ژوندی نبا تا تو او حیو اناتو څخه په لاس را ځی ، که څه هم چی بیو لو ژیکی انر ژی په هم هغه اندازه کاربن ډای اکساید تولیدوی لکه فو سیلی تیل خو ددی نبا تا تو وده او په بیو لوژیکی کتلو باندی د هغوی تبد یلیدل د اتمسفیر څخه په هم هغه اندازه کاربن ډای اکساید جذبوی په دی خاطر یی چا پیر یالی تاثیرات بی خطره دی د بیو لو ژیکی کتلو د مستقیمی سو ځو نی څخه نیولی د میتان د غاز تر لاسته راوړنی پوری چی د ارګا نیکو موادو د تجزیی څخه په لاس را ځی ډیر سیستمو نه سته چی په کار اچو نه یی بریښنا تولید وی

بیو انررژی عبارت له بیو لو ژیکی کتلو ، بیو لو ژیکی غازاتو او بیو لو جیکی تیلو څخه دی ، بیو لو ژیکی کتلی عبارت دی له بیو لو جیکی موادو څخه چه د ژوندی مو جو داتو یا ژوندی ارګانیزمو څخه مشتق کیږی ، بیو لو ژیکی کتلی کولای سی چی په مستقیم ډول د حرارت د تولید د پاره په کار واچول سی یا په غیر مستقیم ډول سره د بیو لو ژیکی تیلو د تولید د پاره په کار واچول سی ، د بیو لو جیکی کتلو څخه د تیلو په لاس را وړل په ځو میتو دو نو تر سره کیږی : حرا رتی ، کیمیا وی او بیو لوژیکی ـ کیمیاوی ، بیو لو ژیکی اوعضوی کتلی په نورو انرژیتیکی منابعو د بدلیدو قا بلیت لری لکه : د میتان غاز ، یا د ترانسپورت د پاره په تیلو لکه ایتا نول یا بیو ډیزل ، د اشپز خانو ، انسا نا نو ، حیوا نا تو او زراعتی فا ضله مواد میتان غاز را باسی همدارنګه دفن سوی زبا لی میتان غاز را باسی ، بیو لو ژیکی غاز ډیر پراخ استعمال لری د بیو لو ژیکی کتلو څخه مشتق کیږی تر دی اصطلاح لاندی سخت ،مایع او غازی تیل را ځی

## د انرژی ذ خیره کول :

د انرژی ذخیره کول د هغو میتو دو نو د مجمو عی څخه عبارت دی چی بریښنا یی انرژی په بریښنایی شبکو کی سا تی بریښنایی انرژی او تو دو خه په هغه وختو نو کی سا تل کیږی چی تولید تر مصرف زیات سی یا دتولید په وخت کی ا ړتیا ور ته نوی او په هغه وخت کی بیرته شبکی ته ور کول کیږی چی تولید تر مصرف کم سی یا ا ړ تیا وی ور ته

نوی کیدونکی انرژی ته انتر ناتیوه انرژی ، پا که انرژی یا شنه انرژی هم ویل کیږی

# د نوی کیدونکی انرژی د سرچینو څخه د کار اخیستنی تکنا لو ژی :

## د باد د ا نرژی د په کار اچونی تخنیک :







## د لمر د وړانګو د تودو خی د په کار اچونی تکنا لوژی :

د او بو تودول :

د لمر پواسطه د اوبو غیر فعا له تو دو نه :

  

زموږ لخوا جوړه سوی دستګا ه

د لمر پواسطه د اوبوفعا له تو دونه :




## د هوا تو دول :

د لمر دانرژی پواسطه د هوا فعاله تو دونه :

 

زموږ لخوا جوړه سوی دستګاه

د لمر د انر ژی پواسطه د هوا غیر فعاله تو دونه :



د لمر د انرژی پواسطه د هوا یخول :



د لمر ، با د او بو پواسطه د هوا یخول :

فعال یخول :

غیر فعال یخول :

د لمر پواسطه د بریښنا تولید :

د عمومی شبکی سره وصل تو لید :



د  عمومی شبکی څخه جلا تو لید :



د عموی شبکی څخ جلا د بریښنا د تولید سیاری د ستګا وی :









د عمومی شبکی څخه جلا د بریښنا د تولید ثا بتی دستګا وی :

زموږ لخوا جوړه سوی دستګاه





د سړک ځرا غو نه :

زموږ لخوا جوړ سوی څرا غونه





د پلا ستیکی بوتل ځرا غونه :

د ورځی بوتلی څراغ :

زموږ لخوا جوړ سوی څرا غونه





د شپی بوتلی ځرا غو نه :

زموږ لخوا جوړ سوی څرا غونه





د انرژی د ذ خیره کولو تخنیک :

د بریښنا دذ خیره کو لو تخنیک :



د د لمر د وړانګو د تو دوخی پواسطه د میوو او سبزیجاتو د ستګا وی :

زموږلخوا جوړی سوی دستګاوی



د لمر د وړانګو په تو دوخه پخلی :



د لمر د وړانګو په تو دوخی د نا پا کو او ترو و اوبو تقطیر :



د او بو د انرژی د په کار اچونی تخنیک :

د او بو لوی ډیمو نه :



د اوبو پوا سطه چلیدونکی کوچنی جنرا تورو نه :



د جیو تر مال یا د مځکی د تودوخی د انرژی د په کار اچونی تخنیک :






د بیو غاز د انرژی د په کار اچونی تخنیک :










د لرګو د انرژی ځخه د کار اخیستنی تخنیک :



د چښاک د او بو د اماده کو لو د پاره ریګی فلترو نه :



وړا ند یز :

۱ ـ د افغا نستان حکومت باید د نوی کیدونکی انرژی د منابعو څخه د کار اخیستنی ( پا لیسی او د هغه دعملی کولو د پاره ستراتیژی جوړه ، تصویب او په ولسی جرګه یی تائید کړی ) (( په لیکلو او عملی کولو کښی یی زه همکاری کوم ))

۲ ـ د لمر ، باد ، او بو ، بیو ګاز ، د تودو چینو ، د اوبو د فلتر تو او تقطیر ، د لرګو د بهتره سو ځلو د اجا قو نو د انرژی څخه د کار اخیستنی د تخنیک د جوړولو ، تولید او رواجولو پراخی تجربی یی زموږ سره سته حکومت باید د یوه قا نونی پروګرام د لاری ددی کار ملاتړ وکړی ( زه د همکاری د پاره حاضر یم )

۳ ـ زه حاضریم چی ولسمشر او تصمیم نیونکی تیم ته یی د معلو ماتو د پاره نما یش وړاندی کړم

په احترام

دیپلوم انجینیر محمد یونس فکور

د نوی کیدونکی انر ژی دمنابعو د خیړنی او د کا راخیستنی د تخنیک د رواجولو د تو لنی مشر

تلیفون : ۰۷۰۰۹۸۱۴۲۶

younus.fakor@gmail.com بریښنایی ادرس :

www.rerzala.com

www.facbook/rerafghanitan